اَلۡحَمۡدُ لِلّٰہِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَالصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ ؕ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰہِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ؕ بِسۡمِ اللّٰہِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ؕ

# قرباني ولې کوي؟

دُعائے عطار: یا الله پاکه! چې څوک هم دا رساله ”قرباني ولے کوي؟“ اُولوَلي یا ئې واورِي‘ هغه ته هر کال د زړه په خوشحالۍ سره د قربانۍ کولو سعادت نصيب کړې او د هغه قرباني د هغه د پاره د پُل صِراط سورلي جوړه کړې- اٰمین بِجَاہِ النَّبِیِّ الۡاَمِین صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

## د دُرود شريف فضيلت

د نبي کريم صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمان مُبارک دے چې : اے خلقو! بيشکه په ورځ د قيامت به د هغې د وِيرو او حساب کتاب نه زر نَجات مُونډُونکے هغه کس وي چا چې په دُنيا کښې په ما باندې کثرت سره دُرود شريف لوستلي وي (مسند الفردوس،471/2،حديث:8210)

صَلُّوا عَلَی الۡحَبِیۡب! ❁❁❁ صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## قُرباني حُکمِ خداوندي باندې عَمل کولو د پاره کيږي

**سوال**: مونږه قرباني ولې کوُو؟

---

**جواب**: د قربانۍ حُکم د **الله** پاک او د هغه خوږ پيغمبر صَلَّی اللّٰہُ عَلَیۡہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم کړے دے او دا د يو څو شرطونو سره په مسلمان باندې واجِب کيږي ځکه مونږ قرباني کوُو او اِنۡ شَآءَاللّٰہ بيا به ئې هُم کوُو **الله** پاک قرآنِ کريم کښې د قربانۍ حکم ورکوي او ارشاد فرمائي:

فَصَلِّ لِرَبِّکَ وَانۡحَرۡ ؕ﴿۲﴾ (پ30،الکوثر:2)

[مَفهُوم] ترجمۂ کنزالایمان: ”نو ته د خپل رب د پاره لمُونځ کوه او قرباني کوه-“

---

نو په دې حکمِ خداوندي باندې عمل کولو د پاره مونږ قرباني کوو- ( په دې موقع باندې مدني مذاکره کښې شریک مُفتي صاحب اوفرمائيل: ) په دې آیتِ مبارکه کښې هُم د قربانۍ ذکر دے: قُلْ اِنَّ صَلَاتِیْ وَ نُسُكِیْ وَ مَحْیَایَ وَ مَمَاتِیْ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِیْنَ ﴿۱۶۲﴾ (پ8،الانعام:162)

[مَفهُوم]ترجمۂ کنزُالاِیمان: "[اے حبیبه] ته اُووایه: بے شکه زما لمُونځ او زما قربانۍ او زما ژوند او مرګ ټول د **الله** لپاره دي چې هغه د ټول جهان مالک دے-"

---

دغه شان چې کله د نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په خدمت کښې صحابه کرامو رَضِیَ اللّٰهُ عَنْهُم عرض اوکړو چې دا قربانیانې څه دي؟ نو نبي کریم صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اُوفرمائيل: سُنَّةُ اَبِيْكُمْ اِبْرَاهِيْم (یعني قرباني کول) ستاسو د پلار ابراهیم عَلَیْهِ السَّلَام طریقه ده- (ابن ماجه ۳:۵۳۱، حدیث:۳۱۲۷) په یو بل حدیث کښې دي: څوک چې د قربانۍ طاقت لري او قرباني نه کوي هغه دِ زمونږه عید ګاه ته نزدے نه راځي- (ابن ماجه،3/529،حدیث:3123)

## قرباني په چا واجب ده؟

**سوال**: قرباني کول په چا واجب دي ؟

**جواب**: دَ لَسَمې ذُوالْحِجَّةِ الْحرام د صبا صادق نه واخله د دولَسمې ذُوالْحِجَّةِ الْحرام د نمر پرِیوَتو په مینځ کښې که یو مسلمان عاقِل، بالغ، مقیم او صاحبِ نصاب وي او دغه نصاب د هغه د قرض او د ژوند د ضروریاتو نه علاوه وي نو په داسې صورت کښې به پرې قرباني واجِب وي-

## آیا په مُسافر باندې قرباني واجب ده؟

**سوال**: آیا په مسافر باندې قرباني واجب ده؟

**جواب**: چې کوم شرعاً مسافر وي په هغه باندې قرباني واجب نه ده-

## دَ قُربانۍ د څاروي د عُمر اعتبار وي که د غاښونو؟

**سوال:** آیا د داسې څاروي قرباني جائز ده چې عُمر ئې پوره وي خو غاښونه ئې نه وي راختلي؟ او د لوئ اختر په موقع سوداګر خریدار ته وائي چې د دې غاښونه نه دي راختلي خو عمر ئې پوره شوے دے خو خریدار داسې څاروے اَخِستلو ته تیار نه وي او وائي چې غاښونو راختل ئې ضروري دي، خو که هُم هغه څاروے مالک په نیم قیمت ورکوي نو خریدار ئې ترینه اَخلِي، داسې کول څنګه دي؟

**جواب:** کوم څاروي چې د قربانۍ عُمر پوره کړے وي د هغې قرباني کول جائز دي اګر که د هغې غاښونه نه وي راختلي- د قربانۍ جائز کیدلو د پاره د اوښ عُمر کم از کم پینځه کاله، د غوا دوه کاله، د چیلۍ او چیلي، د ګډ او ګډې یو یو کال عمر ضروري دے که د ګډې د شپږو میاشتو بچے د لرې نه د یو کال ښکاري نو د هغې قرباني هم جائز ده- یاد ساتئ! د قربانۍ جائز کیدلو د پاره د څاروي عمر پوره کیدل ضروري دي غاښ ضروري نه دي ځکه چې کوم څاروے آزاد څَرِیږِي او په راشوکولو ګیا خوري نو مُسَلسَل په غاښونو د واښو راښکلو په وجه د هغه غاښونه د عمر پوره کیدلو نه مخکښې را اُوخیژي او چې کوم څاروے تړلے وي د هغه د عمر پوره کیدلو باوجود هم غاښونه نه راخیژي- د څاروو د عمر په معامله کښې خلق په سوداګرو ځکه اعتماد نه کوي چې د ډیرو زیاتو درُوغو او دوکو په وجه د خلقو په سوداګرو باندې اعتماد ختم شوے دے- بعضې سوداګر د څاروي کټ شوې لکۍ د ټیپ په ذریعه اونښلوي او په ټیپ د څاروي د رنګ په شان رنګ پورې کړي او خریدار پوهه هُم نه شي چې لکۍ ئې کټ شوي ده خو چې کله ئې هغه غریب کور ته بوځي او د لکۍ نه ئې اونیسي نو لکۍ ئې په لاس کښې پاتې شي- دغه شان بعضې سوداګر د څاروو غاښونو ښودلو کښې هم دوکه کوي هسې خو هر سوداګر دوکه باز نه وي خو خلق په ایماندارو سوداګرو باندې هُم ځکه اعتماد نه

کوي چې مار چیچلے د پړي نه هُم يَرېږي- که سوداګر باشرع او نیک سړے وي او هغه وائي چې د څاروي عمر پوره دے، او د خریدار په هغه باندې اعتماد هُم وي چې دا د څاروي عمر ښودلو کښې دروغ نه وائي نو په داسې صورت کښې که خریدار د هغه نه څاروے واخستو او قرباني ئې اوکړه نو قرباني به ئې اوشي اګر که غاښونه ئې نه وي راختلي- بهتره دا ده چې د قربانئ څاروے که هغه غوا وي او که چیلے، د څلورو غاښونو پکار دے، چیلے که د څلورو غاښونو وي نو د هغې غوښه ډېره ښه وي خو دلته د دوو غاښونو رواج عام شوے دے- څاروے اخستونکے هم د دوو غاښونو مطالبه کوي او سوداګر هم د دوو غاښونو نعرے وهي- بعضې وخت څاروے د اَتۇ غاښو (یعني د پوخ عمر) وي خو سوداګر خریدار ته دوه غاښونه ښکاره کړي او نور غاښونه په خپلو ګوتو پټ کړي او فوراً د څاروي خُله بنده کړي- پاتې شوه دا خبره چې د کوم څاروي د کم عمرئ په وجه غاښونه نه وي راختلي خلق هغه په نیم قیمت اخلي، دا په نیم قیمت باندې اخسونکي کیدے شي چې قصابان وي چې هغوئي به داسې څاروے د قربانئ د پاره نه بلکه حلالولو او غوښه خرڅولو د پاره اخلي-

## څاروے د دوو غاښو دے که زیات دا به څنګه پیژنو؟

**سوال:** څاروے د دوو غاښونو دے که زیات، د دې معلومات به څنګه کوو؟

**جواب:** څاروے د دوو غاښونو دے یا که د زیاتو، هغه داسې پیژندل شي چې کوم غاښونه صحیح نه وي پوره شوي هغه ټول واړه وي او په یو لائن کښې سپین ښکاري او چې کوم غاښونه [پوره] راختلي وي هغه د دې سپینوالي نه لرې جُدا په را اوچت شوي ځائے راخیژي او هغه پلَن وي او لږ زیړ شان وي- که د اَتۇ غاښو بالکل ضعیفه څاروے وي نو د هغه اته واړه غاښونه به بالکل په یو لائن کښې ښکاري او په هغې باندې به

زيړوالے هم وي بهرحال د څاروي د غاښونو پيژندګلو هر څوک نه شي کولے لِـهذا د څاروي اخستلو وخت کښې ځان سره تجربه کار کس بوتلل ډير فائده مند دي-

## لوئ څاروي په وړو ګاډو کښې په زور مَنډل او راوَستل څنګه دي؟

**سوال**: د قُربانئ څاروي په منډئ کښې د اخِستلو نه پس کور ته بوتللو د پاره د ګاډي ضرورت وي، بعضې خلق د پيسو بچ کولو د پاره لوئ څاروي هم په وړو ګاډو کښې په زور ننباسي او پـکښې ځيملوي او په پړو ئې اُوتَړي او دغسې ئې راوَلي په دې وجه څاروو ته ډير زيات تـکليف رسي او بعضې وخت ډير زيات زخمي هم شي د دې متعلق څه مَدَني ګلونه اِرشاد اُوفرمائې-

**جواب**: څنګه چې انسان ته د تـکليف ورکوونـکو څيزونو په وجه تـکليف رسي او هغه خپل ځان د هغې نه د بچ کولو کوشش کوي نو ښکاره خبره ده چې دغه شان څاروو ته هم د تـکليف ورکوونـکو څيزونو په وجه تـکليف رسي- د يو څو پيسو د پاره دغسې لوئ څاروي په وړو ګاډو کښې په زوره ورننباسل، څملوَل، او په پړو باندې تَړَلي رَاوَستل څاروي ته بے وجه تـکليف ورکول او په هغوئې ظلم کول دي- په څاروي باندې ظلم کول په مسلمان باندې د ظلم کولو نه هُم زيات سخت دے ځکه چې مسلمان خو به مقابله اُوکړي، په عدالت کښې به کيس اُوکړي د دې نه علاوه نور ډير څه کولے شي- خو دا بےزبانه څاروے به خپل فرياد چا ته اوکړي-[(1)]

1... په څاروي باندې ظلم کول په ذمّي کافر باندې د ظلم کولو نه زيات بَد دي او په ذمّي باندې ظلم کوَل په مسلمان باندې ظلم کولو نه هُم زيات بَد دي ځکه چې د څاروي مُعين و مددګار د **الله** پاک نه علاوه بل څوک نشته- (دُرِّمختار ، کتاب الحظر و الاباحة، 9/663)

ياد ساتئ! د مظلومه څاروي بلکه د مظلومه کافر ښيرے هم قبليږي- چا چې داسې کړي وي هغوئ دِ توبه اُوکړي او آئِنده دِ هيڅ کله هم داسې طريقه نه اختيارَوِي-

## په کومه ورځ قُرباني کوَل اَفضَل دي؟

**سوال**: دَ اَختر په کومه ورځ قُرباني کول اَفضَل دي؟

**جواب**: د اختر په درې واړو ورځو کښې قرباني کوَل جائز دي البتّه په اَوَلنَئ ورځ قرباني کوَل اَفضل دي- د اَختر په اَولَنئ ورځ عموماً قصّاب ډيرې پيسے اَخلي نو بعضې خلق لږې شان پيسے بچ کوَلو د پاره اَفضله عمل پرېږدي او د اَختر په دويمه يا دريمه ورځ قرباني کوي- دغه شان د دومره ګران څاروي راوَستلو باوجود د لږو پيسو بچ کولو د پاره د اَولَنَئ ورځې د قربانئ د فضِيلت نه ځان محرومه کړي، په اَولنَئ ورځ د قصاب زياتې پيسے اخستل اګر چې زړه نه مني، خو خپل ذهن داسې جوړَول پکار دي چې کوم عمل په نفس باندې خومره زيات سخت وي د هغې ثواب هم هغه همره زيات ورکولے کيږي- (سفر حج کی احتیاطیں، ص24)

ياد ساتئ! د لوئ اختر په ورځ د څاروي ذبح کولو نه افضل بل يو عمل هُم نشته- لِـهذا که څه مجبوري نه وي نو په اَولنئ ورځ قرباني کول پکار دي اګر که څه رقم زيات خرچ شي خو دا دِ نقصان نه ګڼړي بلکه د دې په بدل کښې په آخرت کښې ملاوِيدُونکي عظيم ثواب باندې نظر ساتل پکار دي که د چا په کور کښې په دويمه يا دريمه ورځ دعوت کيږي ځکه په اوله ورځ قرباني نه کوي نو هغه له پکار دي چې په اَولنئ ورځ دِ قرباني اُوکړي او غوښه دِ په فريج کښې کيږدي او بله ورځ دِ ئې په دعوت کښې استعمال کړي ځکه چې په يو دوو ورځو کښې د غوښې په خوند کښې څه خاص فرق نه راځي- صرف د نفس د مزے د پاره د اَولَنئ ورځې د قربانئ د عظيم ثواب نه محرومه

کیدل عقلمندي نه ده بلکه محرومي ده- څنګه چې تاجر د مال په ګټه نظر ساتي دغه شان هر مسلمان له پکار دي چې هغه د مال د ګټې نه زیات د نیکو په ګټه نظر ساتي او د دې د پاره دِ کوشِش هُم کوِي-

## په شکنجه کښې ښاروي نیول او ذبح کوَل څنګه دي؟

**سوال**: په یورپي مُلکونو کښې واړه ښاروي ذبح کولو د پاره په مخصوصو شکنجو کښې مضبوط نیسي چې د پړو تړلو او نیولو د مشقّت نه بچ شي، داسې کول څنګه دي؟

**جواب**:چیلے او ګډ وغیره په مخصوصه شکنجه کښې نِیوَل او ذبح کولو کښې نور څه حَرَج نِشته خو یو سنّت ترک [پاتې] شي هغه دا چې ذبح کوونکے دِ خپله ښئ ښپه د ښاروي د خټې په ښي طرف باندې کیږدي او ذبح دِ ئې کړي- البتّه په دغه شکنجه کښې د مضبوطو نیولو یوه فائده هُم ده چې ښاروے د ډیرو غیر ضروري تکلیفونو نه بچ شي مثلاً بعضې خلق چیلے اوچت کړي او او زمکې له ئې راواچوي یا ئې په کاږیزه زمکه راګُزار کړي چې دا یقیناً بے وجه تکلیف ورکول دي خو د دغه مخصوصې شکنجے په ذریعه څملولو کښې دا دواړه تکلیفونه نه وي او دا شکنجه داسې جوړه وي چې ښاروے څملَوِي او د خِیټې نه ئې مضبوط اُونیسي او ښپې ئې آزادې وي او دا طِبّي لحاظ سره هم ښه دي ځکه چې ښاروے ښپې خومره زیاتې اُوخوزوي هغه همره به ترینه د صحت د پاره نقصاني وینه اوبهیږي بهرحال که په شکنجه کښې ئې کلک اونیسي او حلال ئې کړي یا ئې په پړو اُوتړي او حلال ئې کړي خو ښاروي ته د بے ځایه تکلیف وَرکوَلو اجازت بالکل نشته- څوک چې د [حلالولو په دوران کښې] د چیلي خټې ماتوي یا په لوئ ښاروي کښې چاړه خخه کړي او د زړه رګونه ئې کټ کوي یا د ذبح کولو په وخت کښې [د ښاروي د مرئ] په هډوکي چاړه راښکاږي نو هغوئي ته د دې

نه بچ کیدل ضروري دي [ځکه چې دا ښاروي ته بے ځایه تکلیف ورکول او ظُلم دے] خدائے دِ نه کړي که د مرګ نه پس په سړي هم دغه ښاروے مسلّط کړے شي نو څه به کیږي-؟

## د قربانۍ د ښاروي ویښته او وړۍ کټ کول څنګه دي؟

**سوال**: د قربانۍ د بعضو ښاروو په وجود باندي ډیر غټ غټ ویښته وي، که د ذبح کولو په وخت کښې [د هغه ویښتو په وجه] مشکلات پیښیږي نو آیا هغه ویښته کټ کولے شو؟ که چا هغه ویښته کټ کړل نو د هغه ویښتو څه حکم دے؟

**جواب**: د قربانۍ د ښاروي ویښته او وړۍ کټ کول مکروه دي- که چا دا ویښته یا وړۍ کټ کړه نو دا څیزونه نه په خپل استعمال کښې راوستلے شي او نه ئې مالدار له ورکولے شي بلکه دا به په شرعي فقیر باندې صدقه کوي- پاتې شوه خبره د ذبح کولو وخت کښې د مشکلاتو نو د هغې د پاره د ټول بدن ویښته کټ کول خو لرې خبره ده د مرۍ د ویښتو لرې کولو ضرورت هم نشته بلکه په مرۍ باندې چې ورته اوبه وغیره واچولے شي نو هُم ځائے جوړیدے شي-

## د بے اودسه یا بیلمانځه ذبیحه

**سوال**: قصاب عموماً بےاودسه، بیلمانځه او ګیره خرئیلے وي نو آیا په داسې کس ښاروے ذبح کول صحیح دي؟ ورسره د ښاروي ذبح کولو یو څو مدني ګلونه هم بیان کړئ-

**جواب**: د ښاروي ذبح کولو د پاره په اَوداسه کښې او د لمُونځ ګزاره کیدلو او د ګیرې شرط نشته لِهذا که ګیره خرئیلے کس، بےاودسه او بیلمانځه کس هُم ښاروے ذبح

کړو نو حلال به شي- ❁ : ذبح کوونکې د پاره نارینه کیدل هُم شرط نه دے، زنانه یا پوهه ماشوم ئې هم ذبح کولے شي البتّه که څوک ئې هم ذبح کوي د هغه د پاره د ذبح کولو په وخت کښې د **الله** نوم اخستل ضروري دي- (درمختار مع ردالمحتار، 9/496 ماخوذا) ❁ که چا قصداً د **الله** نوم پریښودو مثلاً دوه کسانو په یو ځائے ذبح کولو، یو په دې سوچ د **الله** نوم وانخستلو چې دویم به اخستے وي زما وئیل ضروري نه دي نو څاروے به مُردار وي- (درمختار مع ردالمحتار، 9/499) ❁ د ذبح کولو وخت کښې د "بِسۡمِ اللهِ اَللهُ اَکۡبَر" الفاظ وئیل بهتر دي، شرط نه دے لِـهذا که چا صرف لفظِ "**الله**" اُووَئیلو او چاړهٔ ئې راښکله بیا به هم څاروے حلال شي- (فتاویٰ ہندیه، 5/285) ❁ که د هیریدلو په سبب ئې د الله نوم وانخستلو نو بیا به هم څاروے حلال شي- (ہدایه، 2/347)

## د اجتماعي قربانۍ احتیاطونه

**سوال**: اجتماعي قرباني کولو والؤ باندې کومې کومې شرعي ذمه داریانې راځي؟

**جواب**: د اجتماعي قربانۍ مسائل ډیر سخت او مشکل دي لِـهذا اجتماعي قرباني کوونکو د پاره لازم دي چې هغوئې د دې متعلق ضروري مسائل زده کړي، یا دِ د عُلمائے کرامو په مکمله رهنمائي کښې قرباني کوي- بد قسمتئ سره خلقو د اِجتماعي قربانۍ نه کاروبار جوړ کړے دے، بعضې اِدارے هم د علمائے کرامو د رهنمائي نه بغیر اجتماعي قرباني کوي او ښه ښکاره غلطیانې کوي او د خلقو قربانیانې ضائع کوي- هر یو کس له د آخرت د عذاب نه بَریدل پکار دي او صرف د شرعي تقاضو پوره کیدلو په صورت کښې اجتماعي قربانۍ ته لاس اَچول پکار دي- د عاشقانِ رسول مدني تحریک دعوت اسلامي کښې اِجتِماعي قرباني د دارُالافتا اهلِسنّت په مکمله رهنمائي کښې کیږي- د ملک او بیرون ملک اجتماعي قربانۍ اِراده لرونکو ذمّه دارانو اول تربیّت

کيږي- بيا تربيتي نشست کښې د شرکت کوونکو امتحان کيږي او څوک چې په امتحان کښې کامياب شي هغوئې ته د مدني مرکز له طرفه د اجتماعي قربانۍ اجازت ملاويږي- دې سره سره د دارالافتااهلِسنّت له طرفه د ”اجتماعی قربانی کے مدنی پھول“ په نوم يوه رساله هم شائع شوې ده-

## په قرضو قرباني کول څنګه دي؟

**سوال**: که چا سره پيسے نه وي نو آيا قرباني کولو د پاره قرض اخستے شي؟

**جواب**: که قرباني پرې واجِب وي او نغدې پيسے ئې په لاس کښې نه وي، په کاروبار کښې بندې وي يا ئې پرې مال اخستے دے او هغه خَرڅَوَل نه غواړي نو بيا که د چا نه قرض واخلي او قرباني اُوکړي نو څه باک نشته- البتّه که قرباني پرې واجب نه وي نو ښکاره خبره ده چې بيا په قرضو قرباني کوَل ضروري نه دي خو که [قرض ئې واخستو او] قرباني ئې اُوکړه نو ثواب به ئې اوشي خو داسې کول په ځان ډير بوج جوړوَل دي ځکه چې بيا به قرض نه شي خلاصولے او دغه شان جنګ جګړې او مسائل به پيدا شي لِـهذا زما مشوره دا ده چې که په چا قرباني واجب نه وي نو صرف د قربانۍ د پاره دِ قرض نه اَخلي-

## آيا په محرّم الحرام کښې د قربانۍ غوښه خوړلے شي؟

**سوال**: آيا د قربانۍ غوښه د لوئ اختر تيريدلو نه پس خوړل صحيح دي؟ او بعضې خلق وائي چې د محرّم الحرام مياشت ښکاره شي نو په کور کښې غوښه پخول نه دي پکار او د قربانۍ غوښه هم د يکم محرّم الحرام نه مخکښې مخکښې ختمول پکار دي- تاسو په دې باره کښې زمونږ رهنمائي اُوفرمائے-

**جواب**: د قربانۍ غوښه که څوک پوره کال خوړل غواړي نو هُم خوړلے ئې شي او دا جائز دي- په محرّم الحرام کښې د قربانۍ غوښه او د دې نه علاوه که څاروے حلال کړي نو د هغې غوښه هم خوړلے شي-

## د قربانۍ د څاروي غوښه درې حِصَّے کول

**سوال**: د قربانۍ د غوښې درې حصے کيږي، آيا په شريعت کښې د دې څه دليل شته؟

**جواب**: **د "بهار شريعت"** په پينځلّسمه حصّه کښې د قربانۍ مسائل ليکلي شوي دي، په هغې کښې د قربانۍ د څاروي درې حصّے کول مُستحب ليکلےشوي دي مثلاً که چيلۍ وي نو هغه دِ درې حصّے کړے شي، يوه حصّه دِ قرباني کوونکے په خپل استعمال کښې راوَلي، يوه حصّه دِ په خپلوانو تقسيم کړي او يوه حصّه دِ په غريبانانو تقسيم کړي دا مُستَحَب دي- (بهارشريعت، 3/344،حصه:15۔فتاویٰ ہندیہ، 5/300) که ټول چيلے ئې ځان له کيښودو يا ئې ټول تقسيم کړو يا ئې ټول چا له ورکړو، دا ټول صورتونه هُم جائز دي-

## قرباني په چا واجب ده؟

**سوال**: په کور کښې دوه کسان د کټلو والا دي، هغوئي تقريباً 20 زره پورې ګټي، آيا په هغوئي باندې قرباني کول واجب دي؟

**جواب**: **د** 20 او 30 زره ګټلو مسئله نه ده دغه شان خو خلق يو لاک هم ګټي او ټول رقم خرچ شي- څوک په لَس زره ګزاره کوي او د چا به په لس لکه باندې هم ګُزاره مشکله وي، چا سره به د نن روټۍ وي او د صبا به ورسره نه وي، د صبا به ورسره وي د بل صبا به ورسره نه وي لِهذا څومره ګټې دا بنياد نه دے بلکه بنياد دا دے چې د 10 ذُوالْحِجَّةِ الْحرام د صبا صادق (نه واخله د 12 ذُوالْحِجَّةِ الْحرام د نمر پريوتو) پورې چې څوک غني

وي يعني د ضروورياتو نه علاوه ورسره د نصاب[1] برابر رقم وغيره موجود وي او قرضدار هم نه وي نو قرباني به پرې واجب وي-[2]

## د قربانۍ د څاروي قيمت وَئيل مناسب دي که خاموشي اختيارَوَل؟

**سوال**: کله چې مونږه د قربانۍ د پاره څاروے مثلاً غوا يا بيزه واخلُو او رَائې وَلو نو اکثر خلق بيا بيا تپوس کوي چې په څو مو اخستے دے؟ په داسې صورت کښې قِيمت وَئيل مناسب دي که خاموشي اِختيارَوَل ځکه چې په قيمت وئيلو کښې د خپل ځان لوئ ګڼړلو صورت هم راځي چې ما خو په پينځۀ اويا زره 75000 يا په دوه لکه 200000 اخستے دے وغيره؟

**جواب**: ښکاره خبره ده چې څوک د قيمت تپوس کوي او ته وَرته اُووَائې چې قيمت درته نه وَايم نو هغه به خفه شي او په هغه به بَده اُولګي ځکه که څوک تپوس اُوکړي نو

---

[1] ۰۰۰د قربانۍ نصاب دا دے چې ووه نيمې تولے سره زر يا دوه پنځوس نيمې تولے سپين زر وي يا د دوه پنځوس نيمې تولے سپينو زرو همره رقم وي يا د خرڅولو دومره سامان وي چې د دوه پنځوس نيمې تولے سپينو زرو رقم ته اورسي يا په کور کښې د ضرورت نه علاوه دومره سامان موجود دے چې هغه دوه پنځوس نيمې تولے سپينو زرو رقم ته اورسي يا دا ټول چې راجمع کړے شي نو د دوه پنځوس نيمې تولے سپينو زرو رقم ته اورسي نو په دې صورت کښې به قرباني واجب شي-
(فتاویٰ هنديه، 5/292 بهارِ شريعت، 3/333، حصه: 15)

[2] ...دا ضَروري نه ده چې په لسمه دِ قرباني اوکړي دا ګنجائش شته چې په پوره وخت کښې کله اوغواړي کولے ئې شي لِهذا که د وخت په شروع کښې (يعني که د 10 ذُوالْحِجّه په سحر) د دې اهل نه وو د وُجُوب شرائط موجود نه وو او په آخر وخت کښې (يعني په 12 ذُوالْحِجّه د نمر پريوتلو نه مخکښې) اَهل شو يعني د وُجُوب شرائط پوره شو نو پرې واجِب شوه او که د وخت په شروع کښې پرې واجب وه او لا (قرباني) ئې نه وي کړې او په آخر وخت کښې پرې شرائط بيرته ختم شو نو (قرباني) پرې واجِب پاتې نه شوه- (بهارِ شريعت، 3/334، حصه: 15)

قيمت ورته اُووائے- تاسو خو هم د څاروو ګرځوَلو شوق لرئ، چې تاسو خپل شوق پوره کوئ څاروے چې راوَلئ نو د کور د دروازے مخې ته ئې تړئ، او د ګلونو غاړکئ او اميلونه ور اچوئ او ښه ئې ښائسته کوئ نو چې تاسو پخپله دومره نمائش کوئ نو بيا خو به خلق هُم تپوس کوي چې په څو شوے دے؟ که تاسو د څاروي نمائش نه کوئ او پټ ئې اوساتئ نو دومره خلقو ته به پته هُم نه لګي بيا به لږ خلق تپوس کوي يا به دا تپوس کوي چې تاسو قربانئ له څاروے اخستے دے که نه؟ که تاسو ورته اُووائې چې آؤ! نو بيا به دا تپوس کوي چې په څو شوے دے؟ او که ورته اُووائے چې تر اوسه پورې مې نه دے اخستے، نو تپوس به کوي چې څو پورې مو د اخستلو اراده ده؟ بهرحال عوام خو به تپوس کوي- خو بعضې وخت دا تپوس کول فضول وي او بعضې وخت فضول نه وي لکه که څوک څکه تپوس کوي چې نن صبا څاروے څه قيمت لري او داسې څاروے په څو کيږي؟ څکه چې هغه به هم څاروي اخستلو د پاره منډئ ته ځي نو دا د ښه نيت تپوس کول دي او که هسې تپوس کوي لکه خلق چې د تجسُّس په وجه تپوس کوي نو دا تپوس کول فضول دي او د فضولو خبرو نه ځان ساتل بهتر دي خو دا تپوس کول څه ګناه نه ده لِـهذا که چا ستاسو نه د څاروي د قيمت تپوس اُوکړو نو د هغه د زړه خوشحالوَلو د پاره ورته صحيح قيمت اووائې د هغه زړه به خوشحاله شي، او که نه ورته وائې نو زړه به ئې خفه شي البتّه تپوس کوونکو له هم بغير د ضرورت نه تپوس کول نه دي پکار-

## د کوم څاروي قرباني د فضيلت باعث ده؟

**سوال**: ما دوه کډان ساتلي وُو او زما دا نيّت وُو چې کله دا دواړه غټ شي نو زه به دا دواړه خرڅ کړم او لوئ څاروے به پرې اَخلم خو اوس زما زړه غواړي چې دا دواړه ذبح کړم تاسو زما رهنمائي اُوفرمائے چې په دې دواړو [کارونو] کښې زما د پاره کوم يو بهتر دے؟ (د کراچئ د يو اسلامي ورور سوال)

**جواب**: د قربانۍ د څاروي د نيت کولو څه (شرعي اَحکام) دي، د غريب د پاره بيَله مسئله ده او د مالدار د پاره بيَله که د دې څاروو د قربانۍ نيت دِ نه وُو کړے نو په خرڅوَلو کښې ئې څه باک نشته، ستاسو خوښه ده چې که خرڅوئ ئې او غټ څاروے پرې اخلئ يا ئې نه اخلئ- خو په دې کښې بهتره خبره کومه ده نو په دې باره کښې عرض دے چې بنده کوم څاروے پخپله اوساتي نو هغې سره ئې مينه پيدا شي بلکه بعضې وخت څاروو سره د اولاد په شان مينه پيدا شي، د هغې ذبح کول په نفس بوج پريوځي او زړه ورسره خفه کيږي نو دغسې خو بيا په دې ساتلو څاروو ذبح کولو کښې زيات فضيلت معلوميږي- او که دا خرڅ کړي نو دا کيفيت به نه وي څکه چې د نظر نه پناه وي بيا که حلاليږي او که هر څه ورسره کيږي دومره نه محسوسيږي او که دا خرِڅ کړي او بل څاروے واخلي نو هغې سره به ئې دومره مينه نه وي او د هغې حلالول به ئې په نفس دومره بوج هم نه وي لِـهذا چې کوم څاروے ئې پخپله ساتلے وي هم هغه دِ ذبح کړي-

## د وفات شوو والدينو په نوم د قربانۍ کولو حکم

**سوال**: که والِدَين وفات شوي وي او هغوئي په ژوند کښې کله هم قرباني نه وي کړي نو آيا اولاد د هغوئي په نوم [يعني د هغوئي له طرفه] قُرباني کولے شي؟

**جواب**: آو جي! د اِيصال ثواب د پاره قرباني کيدے شي په دې کښې هيڅ باک نشته، او د والدينو له طرفه قرباني کوَل پکار دي او دا ښه خبره ده- والِدَينو به په ژوند کښې قرباني کَوَله يا نه يا به ئې سَل، سَل چيلي حلالول بيا هم هغوئي ته اِيصال ثواب کولو د پاره قرباني کولو کښې باک نشته- ددې نه علاوه د ژوندي دايصالِ ثواب دپاره هُم قرباني کيدے شي-

## آیا د قربانۍ خاروے لامبولے شو؟

**سوال**:آیا د قربانۍ خاروے لامبولے شو؟

**جواب**: آو جي! د قربانۍ خاروے لامبولے شي هله چې ضرورت وي-

## آیا د قربانۍ هم قضا وي؟

**سوال**: که د یو کال قرباني پاتې شي نو آیا دا قرباني بل کال کولے شي؟ لکه اوس په دې کال ما سره پیسے نشته نو آیا قرباني زما د پاره معاف ده یا به کول وي؟

**جواب**: که د قربانۍ ورځې تیرې شوې او (د واجب کیدلو په صورت کښې ئې) قرباني اُونکړه او نه ئې خاروے صدقه کړو او نه ئې د هغې قیمت صدقه کړو تر دې پورې چې بل غټ اختر راغے او اوس دے غواړي چې د تیر شوي کال قضا قرباني په دې کال اُوکړي نو دا نه شي کیدے بلکه اوس هم دا حکم دے چې خاروے یا د هغې قیمت دِ صدقه کړي- (فتاویٰ ہندیه، 5/296297)

## چې قرباني واجب وي خو پیسے نه وي نو څه کول پکار دي؟

**سوال**: که د قربانۍ شرائط موجُود وي خو پیسے نه وي یا که په چا قرباني واجب نه وي نو آیا بیا هم د قربانۍ کولو حُکم دے؟ (د رُکنِ شُوریٰ سوال)

**جواب**: که قرباني واجب وي خو پیسے نه وي نو په قرض اخِستلو هم قرباني کوَلے شي یا دِ څه داسې څیز خرڅ کړي چې د هغې نه رقم حاصل شي او خاروے پرې واخلي- یاد ساتئ! د قربانۍ د پاره د دوه نیم لکه روپو خاروے اخستل ضروري نه دي بلکه چا سره حِصَّه هم اَچوَلے شي او دا ډیره ګرانه نه وي- بهرحال که قرباني واجب وي نو کول ضروري دي که قصداً ئې اُونکړه نو بنده به ګنهګار وي- او که قرباني پرې هډو واجب

نه وه او د هغې د وُجُوب شرائط هم نه وُو او په دې وجه ئې قرباني اونکړه نو دا د ګناه کار نه دے ځکه چې قرباني پرې واجب نه وه-

## د قربانۍ د ښاروي په غاړه کښې جرس او په ښپو کښې د ګونګرو اَچوَلو حُکم

**سوال**:د قربانۍد ښاروي په غاړه کښې جَرَس او په ښپو کښېګونګري اَچول څنګه دي؟

**جواب**: که د قربانۍ ښاروے وي او که د قربانۍ نه وي، د ښاروي په مرۍ کښې جرس اَچول او په ښپو کښې ګُونګري اَچول بغير د ضرورت نه مکروهِ تنزيهي يعني ناخوښه دي- د ښاروي په غاړه کښې د جرس يا په ښپو کښې د ګُونګرو اَچولو متعلّق د دارُالِافتا اهلِسنّت ديره ښکلې فتوىٰ دا ده چې که چرته د ښاروي په غاړه کښې د جرس يا په ښپو کښې د ګُونګرو اَچوَلو څه فائده وي نو په دَارُالْاِسْلَام کښې بغير د کراهته جائز دي او که څه فائده نه وي نو مکروهِ تنزيهي يعني ناخوښه عمل دے خو جائز دي-“ ياد ساتئ! د قربانيانو رونقونه په دَارُالْاِسْلَام کښې وي نو دا مسئله هم د دَارُالْاِسْلَام متعلّق ده او د دَارُالْحَرْب جُدا صورتونه دي- اَلْحَمْدُلِلّٰه! پاکستان دَارُالْاِسْلَام دے او د دې نه علاوه نور [ډير] مُلکونه هم دَارُالْاِسْلَام دي اګر که په هغې کښې زيات تعداد د کفّارو وي خو هغه د دَارُالْاِسْلَام په تعريف کښې راځي- بهر حال زمونږ په معاشره کښې د ښاروو په مرۍ کښې جرس اَچوَلے کيږي دا جائز دي او د مَنفَعَت [يعني د څه فائدے] نيت نه کولو په صورت کښې مکروهِ تنزيهي او که د مَنفَعَت نيت وي نو بيا مکروهِ تنزيهي هم نه دي مَثَلًا په دې نيت د ښاروي په غاړه کښې جرس واچوي چې په سفر کښې د جرس آواز د ښاروي مَزَل تيزوي او ښه په منډه به ځي نو د دې فائدے حاصلولو د پاره جرس اَچوَل مکروه نه دي- دغه شان د دې د پاره ئې د ښاروي په غاړه کښې جرس واچولو چې

شرمخ وغيره حمله کوونکے ښاروے که د حملے کولو د پاره راځي نو د جرس د آواز نه د ويريدلو په وجه به اُوتښتي، او دغه شان به د ښاروو حفاظت کيږي نو دا هم يو صحيح نيت دے- او که د دې د پاره ئې جرس ورواچلو چې دا خوب تښتوي او دې سره به د ښاروي خوب هم تښتي او ښوک چې پرې سور دے د هغه به هم خوب تښتي نو په دې نيت هم ورته جرس اچولے شي-

## د ښاروو په غاړه د جرس او په ښپو کښې د ګونګرو فائدے

د ښاروو په غاړه کښې د جرس يا په ښپو کښې د ګُونګرو اَچوَلو نورې فائدے هم حاصليدے شي مثلاً که ښاروے ورک شي يا پرے اُوشلَوَي او اُوتښتي نو پته به لګي چې ښاروے اُوتَښتِيدو او کوم ځائے ته اُورَسيدو؟ يا که د غلو ويره وي چې غل به ښاروے بوځي نو د ښاروي د تللو سره به د جرس آواز راځي او د دې په وجه به اُوده خلق راوِيښ شي او غل به اونيسي او خپل ښاروے به بچ کړي نو د دې ټولو فائدو حاصِلولو د پاره د ښاروي په غاړه کښې جرس او په ښپو کښې ګُونګري اَچول جائز دي-

## د کم عُمره ښورب ښاروي د قربانۍ حُکم

**سوال**:که غټ ښاروے د يو نيم کال وي خو د لرې نه د دوو کالو ښکاري نو آيا د دې قرباني به اوشي؟

**جواب**: د غټ ښاروي (غوا، ميښې) عمر دوه کاله کيدل ضروري دي که په دوو کالو کښې يوه ورځ هم کمه وي نو قرباني به نه کيږي- البتّه که د ګډې د شپږو مياشتو ښځه بچۍ يا نر بچے وي او د لرې نه د يو کال معلوميږي نو د هغې قرباني جائز ده، خو په چيلۍ او چيلي کښې داسې نشته دا رعايت صرف په ګډه کښې دے او دا هم صرف هله چې کله د شپږو، ووه، يا اته مياشتو بچے دومره ښورب وي چې [لرې نه] د يو کال ښکاري که داسې نه وي نو

د دې هم قرباني كول جائز نه دي بيا اګر كه د شپږو، ووه، يا اته مياشتو وي خو كمزورے وي او بچے ښكاري نو د هغې قرباني نه كيږي- البتّه كه د يو كال نه پس هم بچے ښكاري نو بيا څه باک نشته قرباني به اوشي په دې شرط چې بل څه نقص پکښې نه وي-

(در مختار، كتاب الاضحية، 9/533ماخوذا)

## په څومره كسانو چې قرباني واجب وي هغه ټول به قرباني كوي

**سوال**: په كور كښې شپږ كسان دي او په ټولو قرباني واجب ده كه د ټولو له طرفه دوه يا درې قربانيانې اوكړے شي نو آيا دا به كافي وي يا شپږ قربانيانې به كول غواړي؟

**جواب**: شپږ قربانيانې به كول غواړي- بعضې خلق د ټول كور له طرفه يو چيلے قرباني كړي داسې صورت كښې د يو كَس قرباني هُم نه كيږي په يو چيلي كښې د يو نه زياته حصّه نه كيږي په داسې صورت كښې دِ غټ څاروے واخلي نو هغه د ووه كسانو له طرفه قربانولے شي-